

# مورنۍ ژبه په نړیوالو میثاقونو کې د یو وبنسټیز او اساسي حق په توګه

لیکوونکی: ډاکتر محمد ظریف علم (ستانکزی)

مورنۍ ژبه د انسانانو لپاره، په ځانګړې توګه د ماشومانو لپاره، د دوی د زیږون له شیبې راهیسې د هیوادونو په ملي قوانینو او نړیوالو تړونونو کې د یو بنسټیز او اساسي حق په توګه پیژندل شوې ده.

د اتلسمې پیړۍ تر وروستیو او د نولسمې پیړۍ تر لومړیو پورې، طبیعي حقونه او موجوده ارزښتونه (فطري حقوق ) د قانوني قواعدو د جوړولو لپاره د بنسټ په توګه پیژندل شوي وو.

خو د اتلسمې پېړۍ له پای او د نولسمې پېړۍ له پیل وروسته، د حقوقي مکتب څخه یوه بله تګلاره وړاندیز او رامنځته شوه، چې په هغه کې حقوقي نظام د مونټیسکیو، ژان ژاک روسو او جان لاک لخوا د دولت او وګړو ترمنځ د ټولنیز تړون پر بنسټ ولاړ و او قانون د هغو واقعیتونو او مسئلو پر بنسټ جوړ شو لکه امتیازات او حقونه چې په ټولنو کې شتون لري، په دې توګه په ټولنو کې حقوقي پوزیتیویسم (حقوقي واقعیت ) راڅرګند شو.

په نړیوال ډګر کې، چیرې چې دولتونه د نړیوال حقوقو تر ټولو لوی تابع ګڼل کیږي، پوزیتیویسم او حقوقي واقعیت په نړیوال ډګر کې خصوصا په نړیوالو میثاقونو او اعلامیو کې د عمومي حقوقي قواعدو د اطاعت پر بنسټ پیژندل شوی چې د نړیوالو سازمانونو لکه د ملګرو ملتونو سازمان او د هغه اړوند ځانګې لخوا په نړیوال ډګر کې د بشر د حقونو په توګه رامینځته شوي، او غړي هیوادونه یې مکلف ګڼلي چې نړیوالو کنوانسیونونو او میثاقونو پر بنسټ بشري حقونه په خپل ملي قوانین کې مراعات کړي.

د حقوقي پوزیتیویسم او حقوقي واقعیت پر بنسټ په ټولنیز عدالت کې د بشري امتیازاتو د لنډې یادونې پر بنسټ، مورږ د دې پوښتنې سره مخ یو چې ولې ژبه د مور لپاره په دې اساسي حق کې منسوب شوي او پلار ته نده منسوب شوي؟

مورږ د دې پوښتنې ځواب په حقوقي واقعیت او پوزیتیویسم کې موندلی شو، کوم چې د ټولنیز قرارداد تیوري څخه سرچینه اخلي.

د ځېرونکو په وینا او آند ، ماشوم د مور په رحم کې د انسانی خلقت سره وده کوي او حتا د مور په رحم کې د خپلې مورنۍ ژبې سره بلدېږي. کله چې وزېږي او په ژړا پیل وکړي ، که چیرې په مورنۍ ژبه ورسره خبرې وشي، نو خپله ژړا دروي او غوږ نیسي.

د ماشومتوب او پالنې په جریان کې، د مور لخوا د نرمو، احساساتي کلمو کارول په غیر ارادي ډول ماشوم قانع کوي چې خپله مورنۍ ژبه ووایی او زده یې کړي، او د جملو په جوړولو سره، ماشوم د خپل کوچني دماغ او ذهن سره په آسانۍ سره په خپله مورنۍ ژبه خبرې کول زده کوي، او د هغې له لارې، په کورنۍ او ټولنه کې اړیکه نیسي.

له همدې امله، مورنۍ ژبه، د ماشومانو د ارواپوهنې له نظره د پوزیتیویسم او حقوقي واقعیت پر بنسټ، د حقوقي قواعدو، منطق او د ټولنپوهنې پر بنسټ د هغې د اړتیا دلیل، په ملي قوانینو او نړیوالو کنوانسیونونو کې د بنسټیز او اساسي حق په توګه پیژندل شوی ده.

د ذکر شویو دلایلو په بار، دا بنسټیز حق لومړی په رسمي ډول د بنګله دیش هیواد او د مورنۍ ژبې د مدافعینو نړیوالې ټولنې لخوا په کال ۱۹۹۶ ز د نوامبر په میاشت کې نړیوال سازمان یونیسکو ته وړاندیز شو. د پورته ذکر شوي سازمان لخوا وړاندې شوی وړاندیز د غړو هیوادونو د استازو لخوا د هغه کال د فبروري په (۲۱) تصویب شو.

موږ ټول پدی پوهیږو چې د نړیوال سازمان یونسکو یو له اهدافو څخه د کلتوري میراث ساتنه ده او په نړۍ کې د ژبې او د هغې د ډولونو ساتنه هم د انساني کلتور یوه برخه ګڼل کیږي. د ژبو د ساتنې او د هغوی د ورکیدو د مخنیوي لپاره د مورنۍ ژبې لپاره د یوې ځانګړې ورځې ټاکل یو بشري حق دی چې بشري نسل باید د خپلې مورنۍ ژبې د ویلو د حق پر بنسټ د بنسټیز او اساسي حق په توګه وپیژندل شي له همدې امله، د مورنۍ ژبې منشور چې په ۱۹۹۶ کال کې د یونسکو د نړیوال سازمان لخوا تصویب شو، په خپلو (۳،۲،۱) بندونو کې په لاندې ډول داسي بیانوي:

لمړي بند: د ښوونځي ټول زده کونکي باید خپلې رسمي زده کړې په خپله مورنۍ ژبه پیل کړي؛

دویم بند: ټول هیوادونه مکلف دي چې د مورنۍ ژبې د تولید او تدریس لپاره ټول اړین سرچینې، مواد او تجهیزات تولید او وویشي؛

دریم بند: ښوونکي باید په مناسب ډول روزل شوي او د مورنۍ ژبې تدریس لپاره چمتو وي، څکه چې په مورنۍ ژبه تدریس د ټولنیز مساوات وسیله ګڼل کیږي.

سربېره پردې، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، چې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې لخوا د دسمبر په ۱۶، کال ۱۹۶۶ ز کې تصویب شوی، په خپله (۲۷) ماده کې داسې بیان کوي:

(په هغو هېوادونو کې چې نژادي، مذهبي یا ژبني اقلیتونه شتون لري، د دې اقلیتونو پورې اړوند اشخاص باید د خپلې ډلې د نورو غړو سره د ټولنو جوړولو، د خپل کلتور څخه خوند اخیستلو، د خپل مذهب څرګندولو او عمل کولو، او د خپلې ژبې کارولو حق څخه محروم نشي.)

په ټولنو کې د ملیتونو د مدني حقونو څخه یو د دوی د مورنۍ بومې ژبې ساتنه ده چې د دوی د مورنۍ ژبې د حق پر بنسټ، د پورته ذکر شوي میثاق کې د نورو مدني حقونو سربیره رسمیت ورکول شوی ده، هیوادونه په نړیوال حقوقو کې د لویو تابعینو په توګه ګڼل شوي دي، پدی بنسټ هیوادونه مکلف دي چې د خلکو د بومې ژبې د حق په برخه او د هغې په ساتنه کې هڅې وکړي او د مورنۍ ژبې د پراختیا لپاره په ملي قوانینو کې هڅې وکړي.

په دې توګه، د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون، چې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې لخوا د نومبر په ۲۰، کال ۱۹۸۹ کې تصویب شو، د مورنۍ ژبې په اړه په خپله (۳۰) ماده کې داسې حکم کوي:

(په هغو هیوادونو کې چې قومي یا مذهبي اقلیتونه یا اصلي وګړي ژوند کوي، یو ماشوم چې د داسې اقلیتونو پورې اړه لري، باید د خپلې ډلې د نورو غړو سره په ټولنه کې حق ولري چې د خپل کلتور پر بنسټ زده کړې څخه خوند واخلي او خپل مذهب یا ژبه عملي کړي.)

د قومي، ملي، مذهبي او ژبني ډلو پورې اړوند د اشخاصو د حقونو په اړه نړیواله اعلامیه، چې د دسمبر په ۱۸، کال ۱۹۹۲ کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې لخوا تصویب شوې، په خپله (٤) ماده (۳) پراګراف کې په لاندې ډول داسې تصریح کوي:

(۳) فقره:

(دولتونه باید اړین اقدامات وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هر چیرې چې امکان ولري، د پیروانو پورې اړوند اشخاص د خپلې مورنۍ ژبې زده کولو یا په خپله مورنۍ ژبه کې لارښوونې ترلاسه کولو لپاره کافي اسانتیاوې ولري).

افغانستان د هغو نړیوالو سازمانونو او تړونونو غړی دی چې پدې بحث کې ذکر شول، له همدې امله، د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون (۱٦) ماده کې د هیواد د ګډو ژبو په اړه لاندې ټکي بیانوي:

(دولت د افغانستان د ټولو ژبو دپياوړتيا او پر اختيا لپاره اغيزمن پروګرامونه طرح او تطبيقوي، په هيواد کې د مطبوعاتو، راديو او تلويزيون خپرونې د هيواد پر ټولو مروجو ژبو آزادې دي. )

د افغانستان د پوهنې قانون د (۳۲) مادې (۳) فقره پر بنسټ د مورنۍ ژبې په اړه د تدريس د ژبې په توګه لاندې حکم کوي:

(په هغو سيمو کې چې اکثريت خلك يې د هيواد د دريمې رسمي ژبو څخه د ازبکي، ترکمني، پشه يي، نورستاني، بلوچي، پاميري او نورو ژبو څخه په يوې باندې خبرې کوي، د پښتو او دري ژبې تدريس سربيره، د درسي مضمون په توګه د دريمې ژبې د تدريس زمينه برابريږي، د پوهنې وزارت د هيواد د رسمي دريو ژبو د تدريس په منظور، د ښوونکي د روزنې د کتابونو او درسي موادو د برابرولو به برخه کې اغيزمنې برنامې طرح او تطبيقوي )

ليکونکې: ډاکټر محمد ظريف علم (ستانکزی)